# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**22 قوس _سال 1401**

خبرنامه



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

توزیع کمک نقدی برای هزارخانواده درکندز آغاز شد ------------------------------------------------------------1

له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ------------------------------------------------------------2

189خانواده درسه ولایت کمک شد ------------------------------------------------------------------------------3

کانال مانش: بیش از ۱۳۰ مهاجر در یک شب نجات یافتند----------------------------------------------------------4

برېتانیا: پنځه قاچاق وړونکي تر ۸ کالو په بند محکوم شوي دي-------------------------------------------------6

بلغاریا: ۷۰ مهاجر از جمله افغان ها از سوی پلیس بازداشت شدند-----------------------------------------------8

کرویشیا د شینګن ساحې برخه شوه، خو بلغاریا او رومانیا رد شول---------------------------------------------9

طالبان برای برگرداندن مهاجران به ایران سفر کردند -----------------------------------------------------------11

# متن کامل اخبار

## توزیع کمک نقدی برای هزارخانواده درکندز  آغاز شد

ویب سایت وزارت




**توزیع مساعدت نقدی وغیر خوراکی برای یک هزار خانواده عودت کننده و بیجاشده در ولایت کندز به  تاریخ 20 قوس آغازشد.**

**قرار است کمک یاد شده که برای هر خانواده که مبلغ 200 دالر امریکایی ، 3 تخته کمپل ، و یک بسته پوشاک زمستانی از جانب موسسه IOM تهیه شده است، توزیع شود.**

## له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت



**د هرات ولایت د اسلام قلعه له لارې د ایران څخه د لیندۍ په ( ۲۰) مه ( ۲۲۸۱) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.**

**په یادو راستنېدونکو کې (۶۶) کورنۍ چې (۲۲۴) تنه کېږي (۲۰۵۷) تنه نور مجردین ول، چې له ډلې یې (۴۱) کورنۍ (۱۰۸) کېږي د ( ۵۲۶) تنو مجردینو سره د مرستو په موخه د (IOM) نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول.**

## 189خانواده درسه ولایت کمک شد

ویب سایت وزارت




**برای 189 خانواده بیجاشده و عودت کننده در ولایات پروان ، غزنی و ننگرهار کمک نقدی با همکاری موسسات به تاریخ 20 قوس توزیع گردید.**

**این مساعدت ها به هریک از 55 خانواده در غزنی و 25 خانواده در پروان مبلغ 26 هزار افغانی پول نقد مساعدت موسسه CHA و برای 109 خانواده در ننگرهار مبلغ 700 دالر امریکایی مساعدت دفتر UNHCR میباشد که در هماهنگی باادارات مهاجرین ولایات یادشده توزیع صورت گرفت.**

## کانال مانش: بیش از ۱۳۰ مهاجر در یک شب نجات یافتند

مهاجرنیوز



**نیروی های دریایی فرانسه شنبه شب گذشته در جریان عملیات نجات در کانال مانش ۱۳۳ مهاجر از جمله کودکان را نجات دادند. این مهاجران می‌خواستند از طریق کانال مانش خود را به بریتانیا برسانند.**

**با وجود افزایش سرمای زمستان و آب و هوای طوفانی دریا، بسیاری از مهاجران همچنان در تلاش هستند تا از طریق کانال مانش به بریتانیا بروند. مرکز نظارت و عملیات نجات در شمال فرانسه شنبه شب گذشته در جریان یک سری عملیات در کانال مانش ۱۳۳ مهاجر از جمله کودکان خردسال را نجات داد. این افراد می‌خواستند از راه کانال مانش به بریتانیا بروند.**

**پرفکتور مانش و دریای شمال فرانسه در بیانیه‌ای اعلام کرد که امدادگران فرانسوی شنبه شب ۴۷ مهاجر را که قایق آنها در دریا با مشکل مواجه شده بود، نجات دادند.**

**مرتبط :قایق‌های بزرگتر و پربار: روش های جدید عبور از کانال مانش در حال افزایش است**

در همین حال، یک قایق دیگر از مهاجران که در آب های ساحل بلاریو گیر مانده بود با ۴۳ سرنشین نجات یافت. مقامات مهاجران نجات یافته را به بندر بولونی سور مر منتقل کردند. اندکی پس از آن، نیروی دریایی فرانسه ۴۳ مهاجر دیگر را در آب های ساحلی کاله نجات داد. این افراد صبح یکشنبه به بندر آورده شدند.

پرفکتور مانش و دریای شمال در بیانیه‌ای اعلام کرد که ۱۳۳ مهاجر نجات‌یافته به کارکنان صحی و پلیس مرزی فرانسه تحویل داده شده‌اند.

**[#Opérations] de secours et d'assistance au large du Pas-de-Calais sous la coordination du #CROSSGrisNez ▶https://t.co/ngJ0Q9if7k pic.twitter.com/BqVeUxdoMq**

**— Préfecture maritime Manche et mer du Nord (@premarmanche) December 11, 2022**

در میان این مهاجران یک خانواده با دو فرزند کوچک حضور داشتند. بر اساس گزارش روزنامه له ووه دو نور درجه حرارت بدن کودکان نجات یافته کاهش یافته بود. این روزنامه می‌افزاید که مقامات شهر گراولین این خانواده و برخی از مهاجران دیگر را برای چند ساعت در یک سالن ورزشی پناه دادند.

در همین مورد :نجات مهاجران در کانال مانش: فرانسه دو کشتی دیگر را به بهره برداری می‌سپارد

بر اساس یک خبر دیگر، مقامات فرانسوی پنجشنبه شب گذشته بیش از ۱۵ کودک که از یک تا ۱۶ سال داشتند را در ساحل پادو کاله نجات دادند. به گفته مقامات درجه حرارت بدن آنها کاهش یافته بود.

اگرچه پاریس و لندن در اواسط نوامبر توافقنامه ای را برای جلوگیری از عبور مهاجران از کانال مانش به بریتانیا امضا کردند، اما بسیاری ازمهاجران همچنان در تلاش هستند تا از فرانسه به بریتانیا بروند. بر اساس آمار رسمی دولت انگلستان در سال جاری تاکنون بیش از ۴۴ هزار مهاجر از طریق این کانال مانش وارد بریتانیا شده اند.

## بریټانیا: پنځه قاچاق وړونکي تر ۸ کالو په بند محکوم شوي دي

کدوال نیوز




**بریټانوي چارواکي وايي چې د مانچستر محکمې د تېرې جمعې په ورځ پنځه قاچاق وړونکي تر ۸ کالو په بند محکوم کړي دي. ویل کېږي چې دغو کسانو څه باندې ۱۹۰۰ کردي کډوال د بالکان له لارې فرانسې، جرمني او بریټانیا ته انتقال کړي دي .**

**د مانچستر محکمې د تېرې جمعې په ورځ (د ډېسمبر ۹مه) د یادې ډلې مشر طارق نامیک په ۸ کالو بند محکوم کړ. د تورن محاکمه د نوموړي په غیاب کې وشوه. محکمې د هغه د نیول کېدو حکم هم صادر کړی دی.**

**پنځه څلوېښت کلن طارق نامیک د هغې ډلې مشري کوله چې په ۲۰۱۷ کې د بریټانیا د جرمونو ضد ادارې له خوا له منځه یووړل شوه. پر نوموړي تور و چې له ایران او عراق څخه یې کډوال اروپايي هېوادونو ته لېږدول.**

**بیا ولولئ :فرانسه: یو شمېر افغان قاچاقچیان چې کډوال یې بریټانیا ته لېږدول نیول شوي**

هغه په بهرنیو هېوادونو کې له نورو قاچاق وړونکو سره اړیکې درلودې او ترکې موټر چلوونکې به یې په کار ګومارل. د نوموړي په موبایل کې موندل شوي معلومات ښيي چې په ۵۰ ورځو کې یې څه باندې ۱۹۰۰ کډوال د بالکان له لارې فرانسې او جرمني ته رسولي دي او له یو هر کس څخه یې ۱۸۰۰ یورو اخیستي دي.

دغې ډلې د پیسو په بدل کې کډوال له فرانسې او بلجیم څخه په لاریو کې برېتانیا ته لېږدول.

پولیسو په ۲۰۱۷ کې د یادې ډلې یو بل غړی هغه مهال ونیوه چې په خپل موټر کې یې یوه عراقی ښځه انتقالوله چې په یوه لاری کې د برېتانیا دوور ښار ته رسېدلې وه .محکمې نوموړی په څلور نیم کالو بند محکوم کړی دی.

د ډلې درې نور غړي له ۱ کال او ۴ میاشتو څخه تر ۵ کالو او ۴ میاشتو په بند محکوم شول.

د برېتانیا امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۷ په سپټمبر میاشت کې په یوه لاری ۹ کډوال وموندل چې په ډله کې یې ۵ ماشومان هم وو. د دغو کډوالو له ډلې څخه یو تن له چارواکو سره اړیکه نیولې وه او د مرستې غوښتنه یې کړې وه. دوی ورپسې روغتون ته وړل شوي وو.

بیا ولولئ :<u>برېتانیا: هغه دوه کسان نیول شوي چې غوښتل یې له بلجیم څخه کډوال برېتانیا ته انتقال کړي</u>

له ۲۰۱۸ راهیسې کالې بندر او یوروتونل کې د امنیتي تدابیرو له زیاتېدو سره ډېری کډوال هڅه کوي چې په وړو کښتیو کې د انګلیس کانال له لارې خانونه برېتانیا ته ورسوي. د برېتانیا حکومت د رسمي شمېرو له مخې سږ کال تر دې دمه تر ۴۴ زره ډېر کډوال د یاد کانال له لارې دغه هېواد ته اوښتي دي .



وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

## بلغاریا: ۷۰ مهاجر از جمله افغان ها از سوی پلیس بازداشت شدند

مهاجرنیوز




**مقامات بلغاریا می‌گویند روز یکشنبه ۷۰ مهاجر غیرقانونی را در اتوبوسی در نزدیک شهر سلیون بازداشت کرده اند. در جمع آنها مهاجران افغان نیز حضور دارند. به گفته پلیس برخی از مهاجران به دلیل مشکل صحی به شفاخانه منتقل شدند.**

**پلیس محلی بلغاریا می‌گوید یکشنبه ۱۱ دسامبر ۷۰ مهاجر غیرقانونی را در اتوبوسی در یک پارکینگ پیدا کرده است . پلیس گفته است ۱۴ مهاجری که مدارک نداشتند خود را افغان معرفی کرده‌اند .آنها به دلیل مشکل صحی به شفاخانه منتقل شدند. افزوده شده است که از میان آنها سه مهاجر تا بهبود وضعیت صحی درشفاخانه خواهند ماند.**

**پلیس همچنان ازبازداشت دو رومانیایی که یکی از آنها راننده اتوبوس بود خبر داده است. برای این دو تن پرونده قضایی تشکیل شده است.**

**این در حالی است که پلیس محلی بلغاریا ۲۳ مهاجر افغان را در یک کامیون در بزرگراه بین بورگاس و صوفیه در نزدیک قریه کارناره در ۲۹ نوامبر بازداشت کرد. مقامات از بازداشت راننده کامیون نیز خبر دادند.**

**به گفته وزارت داخله بلغاریا، از ابتدای سال جاری تا اکنون نیروهای امنیتی این کشور ۱۵۰ مهاجر غیرقانونی را بازداشت کرده‌اند. در حالی که در سال ۲۰۲۱ بیش از ۸۲۵۰ مهاجر در بلغاریا بازداشت شدند.**

افزون بر این، نیروهای امنیتی بلغاریا تنها در ماه سپتامبر سال روان ۲۸۲۲ مهاجر غیرقانونی را بازداشت کردند که از این تعداد ۵۶۳ تن در حال ورود به بلغاریا، ۳۸۱ تن بدون مجوز وزارت مهاجرت و ۱۸۷۸ تن دیگر در داخل خاک این کشور بازداشت شدند.

در همین مورد :بلغاریا اتهام شلیک به پناهجوی سوری را رد کرد

بلغاریا کشوری در مسیر بالکان است که بسیاری از مهاجران از افغانستان و خاورمیانه از طریق آن تلاش می‌کنند خود را به اتحادیه اروپا برسانند.

با افزایش تعداد مهاجران در مسیر بالکان، مقامات بلغاریا تدابیر امنیتی در مرز با ترکیه را افزایش داده اند. بلغاریا پیش از این درخواست عضویت در منطقه شینگن را داشت، اما به دلیل مخالفت هالند و اتریش در کنفرانس وزیران کشورهای عضو اتحادیه اروپا به روز پنجشنبه گذشته توافقی برای عضویت این کشور حاصل نشد.

## کرویشیا د شینګن ساحې برخه شوه، خو بلغاریا او رومانیا رد شول

کدوال نیوز




د اروپايي اتحاديې د غړو هیوادونو د داخله وزیرانو په کنفرانس کې په شینګن کې د کرویشیا پر غړیتوب توافق وشو. خو د بلغاریا او رومانیا اړونده درخواستونه رد شول.

په بروکسل کې د اروپايي اتحاديې د ۲۶ غړو هیوادونو د کورنیو چارو وزیرانو پر دې توافق وکړ چې کرویشیا د شینګن ساحې برخه وګرځوي. دا پرېکړه د پنجشنبې په ورځ (۲۰۲۲م کال د دسمبر ۹) د رایو په اتفاق سره وشوه. بلغاریا او رومانیا هم د شینګن ساحې د غړیتوب له پاره درخواست ورکړی وو، خو د هالنډ او اتریش هیوادونو د مخالفت له کبله د یادو دوو لېوال هیوادونو پر غړیتوب توافق رامنځته نه شو.

د اتریش صدراعظم کار نېهامر لږ وخت مخکې دا خبره په ډاګه کړې وه چې د رومانیا او بلغاریا سره د سرحدي کنټرول له منځه وړل دمګړی هیڅ امکان نه لري. نېهامر د خپل یاد دریځ په استدلال کې وویل چې ډېر زیات غیر ثبت شوي مهاجر ورته رسیږي.

له بله اړخه د هالنډ مخالفت و بلغاریا ته د غړیتوب ورکولو پر ضد وو. د هالنډ لومړي وزیر مارک روته د خپل هیواد د دریځ په استدلال کې وویل چې د بلغاریا د غړیتوب پر وړاندې حقوقي تحفظات لري.

بېربوک پر ویانا انتقاد وکړ

د آلمان د کورنیو چارو وزیرې انالېنا بېربوک د اتریش پر دریځ انتقاد وکړ او هغه یې ناهیله کوونکی وباله. هغې وویل: «دا چې د اتریش د وېټو له کبله دغه فیصله مسلطه کړل شوه، زما په فکر د اروپايي سیاست او جیو ستراتیژیک اړخه ناسم کار دی.» د آلمان د زرغون ګوند سیاستوالې بېربوک دا څرګندوني د آیرلنډ د سفر پر وخت وکړې.

د بېربوک په وینا هغې او د آلمان حکومت تر آخري دقیقې پورې د تلیفون له لارې هلې ځلې وکړې چې بلغاریا او په زیاته رومانیا د شینګن ساحې برخه وګرځول شي. هغې زیاته کړه چې که یادو دوو هیوادونو ته هم د اروپا له پاره په «یو ډېر سخت دغه کال» کې د شینګن ساحې غړیتوب ورکړل شوی وای نو به دا د اروپا د لا ژورېدو لامل شوی وای.

د اروپايي اتحادیې کمیسیون د درو واړو کاندیدانو ملاتړ کاوه

د اروپايي تولنې کمیسیون تر آخره پورې پر دې ټینګار کاوه چې د کرویشیا تر څنګ باید بلغاریا او رومانیا ته هم باید د شینګن ساحې غړیتوب ورکول شي. یاد کمېسیون د نوامبر میاشتې په نیمايي کې ویلي ول چې که یاد درې هیوادونه د شینګن ساحې برخه وګرځي نو دا به نه یوازې دا چې اروپايي اتحادیه به لا خوندي او جذابه کړي، بلکې د لا زیاتې اقتصادي خوشالۍ لامل به شي.

یاد درې واړه هیوادونه اوس لا په جزوي توګه د شینګن په اصولو مکلف دي خو پر خپلمنځي پولو یې کنټرول تر اوسه لا نه دی لیري کړل شوی.

کرویشیا د زیاتو اروپایانو له پاره د استراحتځي په توګه ډېر جذاب دی. دغه هیواد ته له بیلو اروپايي هیوادونو څخه هر کال ډېر سېلانیان ورځي. سږکال په دوبي کې لا د دغه هیواد پر سرحد د موټرو د قطارونو ډېر اوږده ترافیکي بندښتونه

رامنځته شوي ول. دا چي اوس دغه هیواد د ۲۰۲۳م کال له جنورۍ میاشتي څخه په رسمي توګه د شینګن ساحي غړی ګرځي، نو به یې د نوي کال له پیل څخه د شینګن د نورو غړو هیوادونو سره پر پولو کنټرول نور نه کیږي. خو پر هوایي ډګرونو به د مارچ له میاشتي کنټرول له منځه ولاړ شي. دغه هیواد له راتلونکي کال څخه د یورو پولي واحد برخه هم ګرځي او په دې توګه یورو خپله پیسه ګرځوي.

د شینګن ساحي د غړو هیوادونو پر خپلمنځیو پولو کنټرول نه کیږي او پکښي تګ راتګ آزاد دی. دغه تړون په ۱۹۸۵م کال د لوکزامبورګ په شینګن نومي سیمه کي لاسلیک شو او د اروپا د ادغام له پاره یو مهم اقدام بلل کیږي.

هغه بهرنیان چي د دغې ساحي له غړو څخه د یو غړي هیواد ویزه ولري، نو هغه کولای شي چي نورو ټولو هیوادونو ته هم سفر وکړي. رومانیا او بلغاریا له ۲۰۱۱م کال راهیسي په دغه ساحه کي و غړیتوب ته په انتظار دي.

## طالبان برای برگرداندن مهاجران به ایران سفر کردند

افغانستان سپوتنیک



هیاتی از وزارت امور مهاجران طالبان برای بررسی مشکلات مهاجران و شرکت در نشست چهارجانبه به تهران سفر کرد.

به گزارش اسپوتنیک، مسئولان وزارت مهاجران طالبان اعلام کردند که قرار است مشکلات مهاجران افغانستان در ایران و جستجوی راه حل در این نشست بررسی شوند.

**عبدالرحمان راشد، مدیر داخلی وزارت مهاجران گفت: "به همراه جمهوری اسلامی ایران و پاکستان توافق‌نامه ای امضا می‌کنیم که به چه شکل مشکلات حل شود تا مهاجران داوطلبانه به کشور بازگزدند".**

**برپایه اطلاعات وزارت مهاجران افغانستان بیش از شش میلیون مهاجر افغان در حال حاضر در ایران و پاکستان بسر می‌برند**

